۱

خېړنیز راپور

شپني عملیات د حکومت روایت - د خلکو روایت

# په دایمیرداد ولسوالۍ کې د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله



قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې پېښې څاري او دغه ځانګړي څېړنیز راپورونه ترې چمتو کوي.

دغه راپورونه د پېښې په سیمه کې له عیني شاهدانو، د پېښې له قربانیانو، د سیمې له خلکو او حکومتي چارواکو سره د مرکو له لارې چمتو کېږي.

د دغو راپورونو موخه د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې مخنیوي ته د چارواکو او مسؤولو لورو د پام اړول دي.


www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58


قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز

## سریزه

د میدان وردګو ولایت د دایمیردادو ولسوالۍ په څلورو کلیو کې د افغان ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ټول ملکي خلک وژل شوي او ټپیان شوي دي.

دغه عملیات د ۱۳۹۸ کال د ثور په ۲۴مه (د ۲۰۱۹م کال د مې په ۱۴مه) شپه، چې د روژې له ۹مې نېټې سره برابره ده، د شپې له ۹ بجو د همدغې شپې تر وروستیو پورې وشول.

په دغو عملیاتو کې، چې په داداخېلو، محمد یارخېلو، شاه قدم او قولزنګي په نوم کلیو کې وشول، د مرګ‌ژوبلې ترڅنګ د دغو کلیو خلکو ته پراخ مالي زیانونه هم اوښتي دي او کورونه ویجاړ کړل شوي دي.

که څه هم د میدان وردګو ولایت او نورو امنیتي ارګانونو د دغو عملیاتو په اړه سپیناوی نه دی کړی؛ خو د قاصد ستراتېژیکو څېړنو مرکز ځانګړي څېړنیز راپور موندلې ده، چې په دې پېښه کې د دولت وسله‌والو مخالفینو ته کوم زیان نه دی اوښتی او قربانیان یې ټول ملکي وګړي دي.

## د پېښې تفصیلي جریان د ځايي خلکو په روایت

د پېښې په سیمه کې عیني شاهدانو او د سیمې اوسېدونکو قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز ته د دغو عملیاتو او له کبله یې د اوښتې مرګ ژوبلې جریان په لاندې ډول ویلی دی:

دغه شپني عملیات د ثور میاشتې په ۲۴مه (د سې شنبې شپه) د افغان ځواکونو له لوري د وسله‌والو طالبانو د نیولو په موخه د داداخېلو په نوم کلي کې وشول، چې ترڅنګ یې دغه کلي ته نژدې درې نور کلي لکه محمد یارخېل، شاه قدم او قولزنګی هم ورسره محاصره شول. عملیات د ماسخوتن په ۹ بجو پیل شول. افغان ځواکونو د داداخېلو کلي پاسنۍ برخه کې هغه پخوانی دولتي کلنیک په نښه کړ، چې اوسمهال پکې یوه دیني مدرسه جوړه شوې وه او د سیمې ماشومانو پکې د حفظ ترڅنګ ابتدایي دیني زده‌کړې کولې.

د عملیاتو له پیل او د چورلکو له غړونو سره په مدرسه کې یو شمېر ماشومان له مدرسې وتلي او په نږدې کوم ګوښه ځای کې یې د ځان پټولو هڅه کړې؛ خو له بده مرغه پر دغو ماشومانو برید شوی او ٦ تنه پکې ځای پر ځای وژل شوي دي. یو بل کس بیا په محمد یارخېلو کلي کې په خپل کور کې دننه وژل شوی دی. د دې ترڅنګ په شاه قدم کلي کې یو بزګر د خپل کور د دروازې له پرانیستلو سره په نښه شوی او د خپل کور په دروازه کې وژل شوی دی. په همدې کلي کې دوه تنه نور چې یو یې د کلي پاده‌وان دی او بل هم له ایران څخه تازه راستون شوی کاریګر دی، لا درکه شوي او دوې اوونۍ وروسته یې مړي د سیمې د اوبو په یوه ویاله کې موندل شوي دي. دوه تنه کلیوال هم افغان ځواکونو له ځان سره وړي، چې وروسته بیا خوشي شوي دي. همدا راز وسله‌والو ځواکونو په محمد یارخېلو او شاه قدم کلیو کې له دوو کورونو ښځې او ماشومان ایستلي او هغه کورونه یې په بمونو الوځولي او په بشپړ ډول یې ویجاړ کړي دي.

د خواني په نوم د داداخېلو کلي يوه اوسېدونکي قاصد ته وويل: «موږ د ماسخوتن له لمانځه څخه د کور په لور روان وو، چې د چورلکو غږونه او پروازونه راپيدا شول. وروسته شپږ چورلکې په سیمه کې ښکته شوې او د محمد یارخېلو د کلي پاسنۍ برخه کې ديني مدرسه یې محاصره کړه. په پایله کې یې ٦ تنه د قرآن کریم حافظان ووژل، چې دوه پکې د حامد او روح الله په نومونو زموږ د کلي اوسېدونکي وو. نه دوی نظامیان نه وو او نه هم دوی د جګړې توان درلود؛ ځکه چې د دوی عمرونه تر پنځلس کلونو پورې رسېدل او دوی په دې مدرسه کې د قرآن کریم حفظ کاوه.»

د محمد یارخېلو د کلي یوه بل اوسېدونکي قاصد ته وويل: «زه خپله په دې شپه په خپل کلي کې نه وم؛ خو له بده مرغه زموږ يو کلیوال هم په دې پېښه کې وژل شوی دی». نوموړي د خپل کلیوال له خولې د دغه کس د وژل کېدو پېښه داسې بیان کړه: «زموږ د کلیوال (ظاهر) کور ته عسکر ننه شوي.. هغه ويل چې کله زموږ کور ته عسکر راغلل، نو ما د کور تر کړکۍ سر ورپورته کړ غوښتل مې ويې وينم، چې ناڅاپه ډزې وشوې او زما پښه ولګېده. وړاندې مې ماشومان ويده پراته وو، یوه مرمۍ مې په زوی ولګېده او ځای پر ځای یې ساه ورکړه».

د سیمې له خلکو سره د مرکو ترڅنګ مو د دغې پېښې په تړاو په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو غبرګون هم څارلی دی او د سیمې زیات شمېر خلکو په ټولنیزو رسنیو کې هم د وژل شوو ماشومانو تصویرونه خپاره کړي دي.

## د پېښې مرګ ژوبله

د سیمې د عیني شاهدانو په وینا، په دغو عملیاتو کې هېڅ کوم وسله‌وال کس او یا داسې څوک چې له وسله‌والو طالبانو سره تړاو ولري، نه وژل شوی او نه هم نیول شوی دی. ټول وژل شوي ۱۰ کسه ملکي وګړي دي.

په دغو وژل شوو کسانو کې ۷ تنه یې ماشومان وو، چې عمرونه یې د ۱۲ او ۱۵ کلونو په منځ کې وو. وژل شوي کسان دوه کسه د داداخېلو کلي، درې کسه د شاه قدم کلي، یو کس د محمد یارخېلو کلي، یو یې د کوه ګکي کلي، دوه کسه د چهاردېوال کلي او یو بل کس هم د قطب خېلو کلي اوسېدونکی و.

## د پېښې په اړه د حکومتي ارګانونو بیان

د میدان وردګو ولایتي اداري، چې معمولا د امنیتي پېښو جزئیات خپروي، د دغو شپنیو عملیاتو په اړه کوم بیان نه دی خپور کړی او نه یې هم د دغو ملکي وګړو د وژل کېدو په تړاو سپیناوی کړی دی؛ خو د دغه ولایت چارواکو د پېښې پر سبا رسنیو ته ویلي وو، چې د میدان وردګو ولایت په دایمیرداد ولسوالۍ کې د القاعده شبکې شپږ غړي د شپنیو عملیاتو پر مهال وژل شوي دي. قاصد د دغه ولایت له مسؤولینو سره د اړیکې هڅه وکړه، ترڅو یې د دغې مرګ ژوبلې په تړاو نظر واخلي؛ خو د ولایت د نظر پر اخیستلو بریالي نه شوو.

## پایله

قاصد د ستراتېژيکو څېړنو مرکز د میدان وردګو ولایت د دایمیردادو ولسوالۍ په څلورو کلیو (داداخېلو، محمد یارخېلو، قولزنګي او شاه قدم) کې د ثور میاشتې (۱۳۹۸ ل) په ۲۴مه شپه د شپنیو عملیاتو (چاپې) په پېښه کې ملکي خلکو ته د اوښتې مرګ ژوبلې په اړه له ځايي خلکو سره د مرکو له لارې موندلې، چې په دې پېښه کې د ۷ ماشومانو په ګډون ۱۰ تنه ملکي وګړي وژل شوي دي. په دې پېښه کې هېڅ وسلهوال جنګيالي ته مرګژوبله نه ده اوښتې. دغه راز دوه کورونه، چې د ګڼ شمېر ماشومانو په ګډون د دوو کورنیو یوازېنۍ سرپناه وه، په بشپړ ډول ویجاړ کړل شوي دي.

دا چې له تېرو څو میاشتو راهیسې په تېره بیا د امریکا-طالبانو ترمنځ د سولې د مخامخ خبرو اترو له پیل وروسته په ټول هېواد کې د افغان او بهرنیو ځواکونو په شپنیو عملیاتو او چاپو کې د ملکي خلکو مرګژوبله په بېدرېغه ډول زیاته شوې ده، د میدان وردګو ولایت په ځانګړې توګه د دایمیردادو  ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې هم په دا ډول عملیاتو کې ملکي خلکو ته مرګژوبله اوړي.

د دغه راپور موندنو ته په کتلو سره، په شپنیو عملیاتو او چاپو کې د ملکي خلکو له ژوند سره په خورا بېرحمانه ډول بېپامي کېږي. د دغه څېړنیز راپور د وړاندیز په توګه، د افغان حکومت له امنیتي ارګانونو په کلکه غوښتنه کېږي، چې د ملکي خلکو پر کورنو چاپې او بمبارۍ بندي کړي او د حکومت او ولس ترمنځ د واټن لا زیاتولو ته لاره هواره نه کړي.

پای

## د مرکه شوو لېست:

1. خواني - د میدان وردګو ولایت د دایمیرداد ولسوالۍ د داداخېلو د کلي اوسېدونکی، قومي مشر.
2. ظاهر - د میدان وردګو ولایت د دایمیرداد ولسوالۍ د محمدیار خېلو د کلي اوسېدونکی، د پېښې قرباني.
3. محمد شریف - د میدان وردګو ولایت د دایمیرداد ولسوالۍ اوسېدونکی او د سیمې د یوه ښوونځي ښوونکی.
4. احسان الله - د میدان وردګو ولایت د دایمیرداد ولسوالۍ د داداخېلو د کلي اوسېدونکی.
5. محمودي - د میدان وردګو ولایت د دایمیرداد ولسوالۍ اوسېدونکی او د معارف وزارت کارکوونکی.
6. محمد هاشم - د پېښې د سیمې اوسېدونکی او په سیمه کې د یوه ښوونځي ښوونکی.

**Contact Officials:**

Dr. Abdul Baqi Amin – Director General

0789316120 director@qased.org abdulbaqi123@gmail.com

**Office**:

077 281 58 58 info@qased.org www.qased.org